مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۰۸/۲۳

# ذوالقافیتین

خوب ته دي راغلی یم شپبه یمه هېرېږمه
ستا په تور نصیب ختلي شپه یمه تېرېږمه
ما د زماني د خُم له رنګه څخه وساته
نن لا د مُغان ډکه پیاله یمه تشېږمه
ماته د یارانو د مستی خبري مه کوه
زه مي د زلمیو شپو توبه یمه ماتېږمه
نور مي پر تنه باندي یادګار نومونه مه لیکه
ونه یم د پاڼ پر سر کږه یمه نړېږمه
زما د پنځو ورځو پسرلي ته سترګي مه نیسه
زه د باد په مخ کي شګوفه یمه رژېږمه
ما مي له ژوندون سره یوه شپبه منلی ده
اوښکه د باڼو پر سر تکیه یمه تویېږمه
زه یم که مي نوم دی که هستي ده سره مله به یو
زه د تور توپان په شپه څپه یمه ورکېږمه
زما یي له محفل سره یوه شپه را لیکلي ده
شمع یم جلوه یمه لمبه یمه سوځېږمه
ډېر به دي رقیبه جهاني د سترګو غشی وي
ستا په قسمت کښلي ترانه یمه شرنګېږمه .

د ۲۰۲۳ کال د اګسټ د میاشتی یوویشتمه، ویرجینیا.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ